# د کاناډا د تادیبي خدمتونو کمشنر له افغانستان څخه لیدنه وکړه

د دسمبر 20 مه، 2009

د کاناډا د تادیبي خدمتونو کمشنر دان هید د افغانستان د کندهار او کابل ولایتونو څخه لیدنه وکړه او خپل سفر یې په بریالیتوب سره پای ته ورسوي.

نوموړي وویل: " د خپل سفر په ترڅ کې مې فرصت ترلاسه کړ، چې د تادیبي ادارو څخه لیدنه وکړم او د خپل افغان سیال او د افغانستان د حکومت له نورو چارواکیو سره خبرې اترې وکړم."

" زه د افغانستان د تادیبي (محابس) سیستم د ځواکمنتیا او د قانون د تینګښت د پراختیا په لاره کې د دوی له هڅو څخه ستاینه کوم. کاناډا د افغان ځواکونو سره مرسته کوي، ترڅو د کندهار په ولایت کې ډاډمن امنیت تینګ شي او د کندهار زندانونه داسې غښتلي شي، چې د قانون تینګښت پراختیا ومومي او د حبس نړیوالو معیارونو ته درناوی وشي. د کاناډا حکومت تراوسه د افغانستان د عدلي او تادیبي سیستم د وړتیا د لوړولو او همدارنګه بنسټونو سره د پوځي ځواکونو، پولیسو او د بشري حقونو کارکوونکو ته د روزنې او لاربښوونې له لارې 132 میلیونه ډالره لګولي دي."

" ښکاره خبره ده، چې د افغانستان حکومت د اصلاحي خدمتونو په برخه کې زیات پرمختګونه کړي دي. دغه سفر زما ډاډ یې نور هم زیات کړ، چې د ملي امنیت لوی ریاست او د عدلیې وزارت د محبسونو او توقیف ځایونو ریاست د بشري حقونو او د قانون د تینګښت د ځواکمنتیا لپاره ژمن دي. دا ډیره مهمه ده چې په پام کې ونیول شي، چې افغانانو د طالبانو د نسکوریدو وروسته اوږده لاره وهلې ده."

"زه د هغوی سره د لیدنې څخه خوښ یم او د دغه دواړو ادارو ژمنه وښوده چې غواړي د بندیانو د حالت د ښه والي او د خپلو اړوندو ادارو د مسلکي وړتیا د لووړلو په لاره کې د کاناډا سره کار وکړي. موږ ویاړ لرو چې د لاربښوونې او روزنې په برخه کې له دوی سره مرسته کوو."

د کاناډا تادیبي خدمتونه د افغانستان لپاره د کاناډا د یوه لومړیتوب په پراختیا کې مهم رول لوبوي، دغه لومړیتوب د یوه ډاډمن چاپیریال د تینګښت او د قانون د تینګښت د ځواکمنتیا لپاره د افغانستان له حکومت سره مرسته ده. د افغانستان د تادیبي سیستم له همکارانو سره دوامدارې خبرې اترې او لیدنې د دغه بهیر یوه برخه ده.

کاناډا د بشري حقونو په برخه کې د هغو نوښتونو څخه چې د ملي امنیت د لوی ریاست، د عدلیې وزارت او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون په ګډون د افغان حکومت د وزارتونو او ادارو لخوا ترسره کیږي، خپلو مرستو ته دوام ورکوي.

په افغانستان کې د کاناډا د حکومت هڅې د دیموکراسۍ د پراختیا او د پولیسو، عدلیې او محبسونو په ګډون د امنیتي سکتور د ریفورم په برخو کې د پام وړ اهمیت لري.